UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بيانيه
http://unama.unmissions.org

**د پرمختيايی کار کوونکي ليندا نورګروف د مړينی په هکله د بشري مرستو او د ملګرو ملتونو د ځايی همغږه کوونکي رابرت واتکينز وينا**

کابل، د اکتوبر ۱۰، ۲۰۱۰- دا د ټولو بشری مرستو او پرمختيايی ټولنی کارکوونکو او په ځانګړي ډول د ملګري ملتونو هغه کارکوونکی چې له نومورې سره يې يو ځای کار ترسره کړي وو، د خورا زياتې خواشينی لامل دی چې د ليندا نورګروف د مړينی په هکله خبر شول. د نومورې مړينه يوه تراژيدی ده او په افغانستان کې د هغو کسانو لپاره چې نومورې ورته په شوق او د ځان په وقف کولو سره کار کاوو يوه ضايعه ده.

ليندا له ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۰۸ کال پوري په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د چاپيريال ساتنې له پروګرام او د ملګرو ملتونو د پروژوي د خدمتونو له دفتر سره، د نورو دندو ترمنځ، د سړکونو د پروژو او د ژوندي مخلوقاتو د ساتني په چارو کې دنده تر سره کړې. نومورې د کرنې د وزارت او د چاپيريال ساتنی د ملی اداری سره له نږدې کار کړي و، خو له دې سره سره له افغانستان سره د ليندا ژمنه يوازی د هغې په دنده او کار پورې محدوده نه وه.

ليندا له دې  هيواد سره ريښتنې مينه درلوده، په روانه دری يې خبري کولې او پښتو يې زده کوله، ډير سفرونه يی کول او د نړيوالو او افغان همکارانو په ډول يې ځانته دوامداره ملګرتيا رامنځته کوله. هغې د افغانستان د خلکو لپاره يوه حقيقی مبلغه وه، او ژمنه وه چې د دوي په ژوند کې ښه والی راولي، دا هغه يو دليل دی چې نومورې يې اړه کړې وه چې د دغه کال د جنوري په مياشت کې بيا افغانستان ته راشي. د هغې لوړه روحيه او مهربانی به په زياته پيمانه په خاطرو کې ژوندي وي.

موږ د ليندا نورګروف وژنه غندو. په افغانستان کې د بشری مرستو او پرمختيايی کار کوونکو او همدارنګه ملکی کسان تر هدف لاندې نيول او د دوي په وړاندې مخ پر زياتيدونکی تاوتريخوالی د منلو وړ نه دی.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.